# د کابل جهادي حکومت دلمن راتوليدو دعمليی پيل

# او د امريکا - ناتو ستراتيژۍ

# دپاتي راتلوپه تړاو

# دافغانستان دآينده غورځنګ اعلاميه

د افغانانو په ټاټوبي کې دامريکا ـ ناټو نظامي شتون اتم تلين له دې لاندې ربنتياوو (واقعيتونو) سره تړاو لري :

- دجګړې دوام ، لوږه ، ظلم ، سياسي بې ثباتۍ او د نشه يي توکو دکر او قاچاق پر وړاندې دټلوالي(ائتلافي ځواکونو) دکړووړو بې ګټېوالی ؛
- هېوادته له بهر ه ،په ځانګړې توګه د پاکستان له خوا دطالبانو رالېږل، روزل او وسله والول؛
- داختلاس، بډو ، اداري ـ اقتصادي فساد پراختيا، دزور واکو او پرهېواد واکمنوله خوا دخلکو او ټولنيزو پانګو ، شتمنيو اوځمکو چور تالان او بلوسنه (غصبونه)؛
- د وتيز (اقتصادي ) اکر (وضعې ) ويجاړېدل ، دېبرکچې ټيټوالی ، پراخه وزګارتيا ،خوراکتوکيو ته دبېوزلو نه لاسرسی او په لويو لاروکې دامنيت نشتوالی ؛
- له بشر ي ربنتو (حقوقو ) څخه سرغړاوی، تېرني ، ژبني او ديني، مذهبي توپيرونو ته لمن وهل ؛
- د يوموټي(متمرکز) دولت ، ملي ځواک، سياسي خپلواکۍ او ملي وسله والو ځواکونو نشتوالی ؛
- د منځنيو پېړيو له ستمګرو ټلواليزو (شبکه يي ) وروسته پاتې جهاديانواو دهغوی له بهرنيو ملا تړيو څخه دخلکو کرکه ؛
- په اوسني سياسي ځواک کې دواکمنو جهاديانو تاريخي رغښتي( ماهيت) او آرو څېرو بربنډيدل او د ترهګرۍ او بنسټپالۍ پر وړاندې له بې اغېزې جګړې سره دخلکو د ملاتړ او پيوستون دکچې راغورځېدل ؛
- د ولسي وګړو او مېشتځايونو مرګ ژوبله او ورانۍ ويجاړۍ ؛
- له لوېديز څخه رالېږدول شويو تېکنوکراتانو نااغېزمني .

دغو ربنتياوو (واقعيتونو ) داسې اکر (وضع ) منځته راوړې چې دامريکا ـ ناټو ستراتيژۍ کړکېچ اوپاتې راتلنه په ډاګه کوي .

داوسنۍ ستراتیژۍ دماتي په اړه د ناټو اونړېوالې ټولنې سیاسي استازیو له وروستیوجوتو څرګندونو څخه په ډاګه کېږي چې دافغانستان په جیو پولیټیک کې دکړکېچ راپیداکېدو نښې نښانې پر سترګو لګي .

دافغانستان آینده غورځنګ له اوو کلو راهیسي په پر له پسې (دوامداره ) توګه ویلي چې ځواکمنه جهادی کړۍ هېڅکله ملي، دېموکراتیک او پرمختللي لوښه (ماهیت) نه درلود اونه یې لري ، ان چې دافغاني ټولنې دودې او پرمختګ دمخنیوي اَر لامل او پازوال(مسئوولین) هم همدوی دي .

دجهادیانو او طالبانو تر منځ خپلمنځي توپیرونه دمنځني پېړیو ارتجاعي کورني (داخلي ) توپیرونه دی چې زموږ دبې وزلو وګړو ژوند یې ستونزمن کړی، دافغانستان خلک دطالبانو پر وړاندې دکورنیو واکوالو او بهرنیو ځواکونو د جګړی په بهیر(پروسه ) کې خپل اوسني او راتلونکي ژوند ته څه ګټه نه ویني او له دې بهیر ه په تنګ راغلي دي .

دافغانستان اوسنۍ ترینګلتیا ان دافغانستان پر برخلیک دپریکړو کوونکو ــ ناټواو امریکا ــ ته لېږدېدلي ، له تر لاسه شویو نښو نښانو څخه ښکاري چې بهرني ځواکوال نو نور د جهادي ــ تېکنوکرات ځواک دبدلو ن په لټه شوي ،دغه بدلون کولای شي چې دافغانستان تور تاریخي پېر دپای زېری وي . دمنځنیو پېړیو د جهادیانو دکړووړوغمیزه به دافغانستان دتاریخ پر څنډو د یوې شرموونکې پېښې په توګه وکښل شي .

په پاکستان کې وروستۍ پېښې یوازې هغه لوبې دي چې دامریکا دټولټاکنو په درشل کې تر سره شوې دي !

دپاکستان۱۶۰ میلیوني هېواد له ټولنوټیز (اجتماعي - اقتصادي) چاودېدونکي اکر څخه په ګرانه دیوې نژدې ارامې راتلونکې زیری ترلاسه کېږي . د سیمې په جیو پولټیک کې دپاکستان پرله پسې پوځي لاسوهنه دهغه دسیمه ییز ي څانګي «طالبان ــ القاعده » له خوا داسې اکر را منځته کړی چې دنړیوالو ځواکونو د شتون او دهغوی د دندو د سرته رسونې په تړاو یې نړیواله ټولنه یوې بیخبنایي بیا کتنې ته اړ ایستې ده .

په داسې اکر کې د امریکا څارګرې ډله (ګومارلې ) داوسني حاکمیت دبدلون لپاره ، دافغانستان له منځه تللي خلک دېموکراتیک ګوند ( دوطن ګوند ) ځینو غړیو ته مخه کړې ، چې تر اوسه څو ګوتشمېرو تنو دې بلنې ته هوکړه کړې . دافغانستان آینده غورځنګ دهغو پر لنډ پارۍ ( کوتاه بینۍ ) خواشیني څرګندوي او هغوی ته له « جهادي پېر پای کار» سره له همغږۍ څخه د ډډې کولو بلنه ورکوي، باید لږ تر لږه دومره سیاسي هوښیاري ولرو چې دافغانستان ولس دښمنه واکمنۍ دپرځېدنې د پړاو خنډ نه شواو دغه پېر نور ور ونه غځوو او له یورښتیني (اصیل) پرګنیز کیڼ رغاوه لرې پاتې نه شو . دافغانستان او ځورېدلو خلکو راتلونکی برخلیک به په همدې جوړښت پورې تړلې وي .

دافغانستان آینده غورځنګ هغو  ټولو جنګیالنو (مبارزانو) چې دافغانستان دخلکو دېموکراتیک ګوند بنسټیزو ارمانوته پالیاله ( وفاداره) دي ا و  هم ټولو نورو پرونیو کیڼ لاسو جنګیالیو ته ملګرانه  بلنه ورکوي چې  د پخواني کیڼځواک ځینو اړوندو معامله ګرواو دجهادیانو ـ تېکنوکراتانو ځواک ته  دسیاسي ځانسپارنې (تسلیمۍ) لوښې ( روحیې) پر وړاندې کلک ودرېږې او دامریکا ـ ناټو دا چل ول  شنډ کاندې .

نوره  نو ټولو ته ښکاره ده چې افغانستان یو  لوی ځواکمن دېموکراتیک او کیڼ غورځنګ ته اړ دی ،چې دیو دېموکراتیک بلونج  (بدیل) په توګه  د خلکو ربښتینو غوښتنو ته ځواب ووایي او له نورو پرمختللو ځواکونو سره یو ځای ، یو رښتینی ملي دولت جوړ کاندې، افغانستان دپرمختګ ،رښتینی  ولسواکۍاو ټولنېزې خپلواکۍ  لویې لارې ته ور سم کړي . د افغانستان آینده غورځنګ په پام کې لري چې دکیڼو ، دېموکراتیکو ، پرمختللو او سوله پالو غونډه د یوې سیاسي اندیزې  پېښې په توګه  او د داسي یو سازمان  رغاونې  لپاره په نژدې راتلونکې کې جوړه کړي .  هغه ملګري چې په رښتیني توګه د داسې یوه سازمان دجوړولو غوښتونکي دي، باید د«کیڼو سوله پالو اوپر مختللو ځواکونو دغونډې » ننګه او ملاتړ وکړي ،  دلوري ورکولو په کار کې یې  پخپله برخه واخلي . غونډه دې د افغانستان دزیار کښانو دګوند دبنسټوالې کنګرې پر لوري دننوتلو ور پرانېزي او دهغه بریالیتوب لپاره هاندو هڅه وکړي .

دافغانستان آینده غورځنګ پر دې باور دی چې نور نو دافغاني کیڼځواک دټپه درېدلو وخت پای ته رسېدلی ، او په کارده چې په سیاسي مېړانه خپلو راتلونکو ستر و چارو ته  وګورو ، خلک د خپل  رښتیني سیاسي ځواک لپاره سترګې پرلاره دي،  باید مثبت ځواب ورکړشي او هېواد ته  دسیاسي بلونج (الترناتیف) لاره پرانېستل شي ،  له افغانې دېموکراتیک کیڼ ځواک څخه پرته بل هېڅ یو داسې ځواک نه شي تر سترګو کېدای چې دپرمختللو سیاسي ـ اقتصادي ادلون بدلون  لاربښوونه  وکړي ، نورنو دکیڼ جوړښت  لا پسې ګړندی کړو، پرګډو بنسټیزو ټکو ډډه ولګوو او بیلابیلې وړې ځانګړنې  یوې خواته کړو ، که افغاني کیڼ ځواک نن خپل جوړښت ته ونه رسېږي، تر لسګونو کلونو پورې به بیا داسې ښه وار  ترلاسه نه شي کړای !

- وړاندې دکیڼو ، دېموکراتیکو او سوله پالو ځواکونو د سترې غونډې پرلور!
- وړاندې په یوه لوي پرګنیز سیاسي سازمان کې دکیڼو ، دېموکراتیکو ، پرمختللو اوهېوادپالو ځواکونو دجوړښت پر لور !

۱۴ سپتمبر ۲۰۰۸

*www.ayenda.org*